# د سرپرستانو لپاره يادداشت پاڼه

**د سرپرستی دندی په غاړه اخيستلو سره تاسو يو مهم مدنی مسئوليت پوره کوئ. تاسو يو داوطلبانه او په خپله خوښه افتخاری مسئوليت په غاړه اخلئ او هغه به بايد په صداقت، دقت او يوازی د سرپرستی لاندی ماشوم د رفاه او ګټی په خاطر اجرا او سرته رسوی.**

**د وصيتوب په حق له قانوني اصول په مدني قانون (BGB) کې (له ۱۷۷۳ څخه تر ۱۸۰۸ مادو) پورې ليکلي. هغه حقونه او وجيبې، چې د وصي نيوونکي غم وخوري، د مدني قانون له۱۶۳۱الف تر ۱۶۳۲ مادې (د مدني قانون ۱۷۵۹ ماده) يې ټاکي. ښه به دا وي چې له دې اصولو سره ځان بلد کړئ.**

**الف)** **سرپرست حق او وظيفه لری چه د سرپرستی لاندی ماشوم د شخص او شتمنی پالنه او غم وخوری او د هغه وکالت او نماينده ګی وکړی. د نورو موضوعاتو په څنګ کښی د وکالت او نمايندګی کولو اجازه نلری، د مثال په توګه د قانونی معاملو يا د خپل ځان سره د دعوا په صورت کښی ـــ په خپل نوم يا د دريم کس په وکالت ـــ د هغه د ښځی يا ميره، د ژوند ملګری يا مستقيم خپلوان او همدارنګه نور موضوعات چه په هغوی کښی غمخوړونکی او پالونکی وجود ولری.**

**I.** **په فردی غمخواری او مراقبت کښی حق او وظيفه شامله ده چه د سرپرستی لاندی ماشوم تربيه او وروزی، نظارت او کنترول کړی او د هغه د اقامت او اوسيدلو ځای تعين کړی. په دی کښی صغير ته د تدابيرو توضيح او تشريح کول هم شامل دی. د سرپرستی لاندی ماشوم په باب د تدابيرو نيول چه هغه د هغه د ازادی صلبولو سره تړاو لری، د فاميلی چارو محکمی اجازی ته ضرورت لری.**

**II.** د **وصي نيوونکي (بې سرپرسته ماشوم) د شتمنۍ غم خوړنه** ستاسې وجيبه ګرزوي، چې د هغه شتمنۍ په سمه توګه سره سرشته وکوئ او وساتئ او د معاشرت هر ډول حقونه پر ځای کړئ:

د دې دندې په پيل سره به تاسې د کورنيومحکمې ته د وصي نيوونکي د شتمنۍ يو فهرست له نمونې سره سم ورکوئ او د هغه د سمبنت او بشپړتوب ډاډ به هم ورکوئ. که چېرته د وصي نيوونکي شتمني زياتيږي، نو هغه فهرست کې به يې رسوئ.

تاسې اجازه نه لرئ چې د وصي نيوونکي له شمنۍ څخه د ځان په ګټه کار واخلئ. تاسې د وصي نيوونکي له شمنۍ څخه بخشش هم نه شئ وکولی، مګر دا چې يوه دوديزه وجيبه او يا دا چې د حالاتو په نظر کې نيولو سره سمون ولري.

د وصي نيوونکي پيسې، چه د هغه د لګښتونو د پاره اړيني وي (په اختيار کې لرونکي پيسې)، ښايي چې په يوه بانک کې د وصي نيوونکي په جاري حساب کې چمتو واچول شي. د وصي نيوونکي هغه پيسې، کومې چې سمدلاسه اړه نه ورته ليدل کيږي، ښايي د پانګې په توګه واچول شي (د پانګې پيسې)، او هغه هم په بانک کې د وصي نيووکي په يوه ګټه راوړونکي جاري حساب کې (د پانګې اچونې بانکي حساب). هغه بانک ښايي چې له يوه د هغه پانګونې د امنيت د پاره په پوره توګه سرشته شوي بنياد پورې اړوند ولري. د کوم بل ډول پانګونې له پاره د کورنيو د محکمې اجازه اړينه ده. د وصي نيوونکي د شتمنۍ په باب به تاسې پرته له کومې ځانګړې غوښتنې څخه د کورنيو محکمې ته يو صورت حساب Rechnung ورکوئ، او هغه هم ، که چېرته کوم بل ډول نه وي ټاکل شوی، هر کال د صورت حساب د کال له تېرېدنې څخه تر يوې مياشتې پورې. په صورت حساب کې ښايي په منظم ډول سره د راغلو او لګېدلو پيسو کچه په ډاګه وي؛ د هر قلم د پاره ښايي چې سندونه مل کړل شي.

**په يوه کال کښی بايد لږ تر لږه يو ځل د سرپرستی لاندی ماشوم د شخصی وضيعت او حالت په اړوند د کورنيو چارو محکمی ته راپور ورکړل شی.**

**ب)** **سرپرست په ډيرو حقوقی معاملو کښی، کومی چه هغه د سرپرستی لاندی ماشوم لپاره په عهده اخلئ، د فاميلی چارو محکمی اجازی ته ضرورت لری، په خاصه توګه**

**۱. د سرپرستی لاندی ماشوم د يوی ادعا او غوښتنی په باب،**

**۲. د ځمکی او جايداد په حقوقی معاملو او يا د يوی مځکی د حق لرلو په باب، د مثال په توګه د مځکی د اخيستلو او يا خرڅولو لپاره، په ګرو کولو سره په ځمکه باندی تاوان راوستل يا نور حقوق يا د ګروی د حقوقو څخه تيريدل،**

**۳. د ټولی شتمنی يا د ميراث يا د راتلونکی قانونی ميراث برخی په باب حکم،**

**۴  د ميراث دعوا پريښودل يا يو ميراث يا د ميراث ترکه او تقسيم،**

**۵  د اخيستلو، خرڅلاو، د اخيستلو او خرڅولو کسب او کار معاملی جوړول او ختمول،**

**۶  د کرائی يا اجاری قرارداد يا يو بل قرارداد چه په هغه کښی د سرپرستی لاندی ماشوم په بيا راتلونکی مصرف او خرڅ مکلف وی، که چيری د قرارداد موده د سرپرستی لاندی ماشوم د بالغ کيدلو څخه وروسته د يوه کال څخه زياته دوام کوی،**

**۷  د کسب او شغل زده کولو قرارداد چه ختم ئی د يوه کال تيريدلو څخه مخکی امکان ونلری،**

٨ د سرپرستی لاندی ماشوم لپاره د قرض اخیستل،

٩ ضمانت کول،

**١٠. د روغې جوړې يا حکميت تړون، که چېرته د شخړې د څيز بيه له ٦٠٠٠ يورو څخه زياته وي. (دا هغه وخت اعتبار نه لري، کله چې روغه جوړه له يوې ليکلې او يا پروتوکول شوې د محکمې لخوا وړانديز شوې روغې جوړې سره سمه وي).**

دا فهرست مکمل ندی. د شک او سوال درلودلو په صورت کښی د فامیلی چارو محکمی څخه د معلومات غوښتنه وکړی. يو قرارداد چه د لازمی اجازی اخیستلو څخه مخکی لاسلیک شوی شوی، په حاضر وخت بی اعتباره او بی تأثیره ګڼل کیږی. سرپرست باید وروسته د کورنیو چارو محکمی څخه اجازه واخلی او د قرارداد هغه بلی خوا ته خبر ورکړی. کفایت نکوی چه هغه بله خوا د يو دريم ګړی مقام يا ځای څخه د اجازی اخیستلو معلومات تر لاسه کړی. سرپرست باید پخپله پریکړه او تصمیم ونیسی چه آیا هغه دا قرارداد د اجازی د خبر ورکولو په اساس نافذ او اعتباری کول غواړی.

يوه يوه طرفه حقوقی معامله، چه اجازی ته ضرورت لری (د مثال په توګه د قرارداد فسخه او لغوه کول)، يوازی د مخکی اجازی اخیستلو په اساس د اعتبار وړ دی.

ت) لطفاً د خپل آدرس بدلون او تغیر او همدارنګه د سرپرستی لاندی ماشوم د آدرس بدلون د فامیلی چارو مسئولی محکمی او د خوانانو اداری ته خبر ورکړی.

د) د فامیلی چارو مسئوله محکمه د سرپرست ټولی دندی او فعالیتونه څاری او پدی هکله د خوانانو اداره ورسره مرسته کوی او هر وخت کولی شی چه د سرپرست څخه د هغه دندی او وظیفی د اجرا او سرته رسولو او همدارنګه د د سرپرستی لاندی ماشوم د شخصی وضیعت او حالت په باب معلومات وغواړی. د خوانانو اداره او – که چیری لازم وی – د فامیلی چارو مسئوله محکمه سرپرست ته د هغه د دندی په اړوند د ټولو مربوطو پوښتنو په هکله مشوره ورکوی او هغه سره مرسته کوی.

که چیری يو څوک د سرپرست په توګه د ګناه څخه ډک چلند پواسطه د خپلی دندی او مسئولیت څخه سرغړونه وکړی، په دی صورت کښی هغه پدی خاطر د مینځ ته راغلی تاوان او ضرر لپاره مسئول دی. تاسو کولی شی چه ددی په خاطر خپل ځان بیمه کړی. کولی شی چه نور زيات معلومات د فامیلی چارو مسئولی محکمی څخه لاسته راوړی.

س) د سرپرستی وظیفه (مقام) ختمیږی، که چیری صغیر بالغ شی او يا سرپرست د دندی څخه ګوښه او موقوف شی. يو سرپرست کیدای شی چه د مهمو دلایلو له کبله د هغه د غوښتنی په اساس او يا که چیری وراندی د هغه د وظیفی د اجرا له کبله د صغیر ګټه او منفعت په خطر کښی وی، د خپلی دندی څخه ګوښه شی.